مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د جولای دویمه | دریېیم کال|۳۹۷یمه ګڼه

## ځېره

۴ مخ

### چرچیل



چرچیل عجیبه مفکوره درلوده. له یوې خوا عملاً له شوروي، المان او هندیانو سره پر جګړه بوخت و، خو له بلې خوا یې د بشریت د ودې او ترقۍ خبره کوله. هغه د نوبل کمېټې له لوري چې کله د ادبیاتو د جایزې ګټونکی اعلان شو، ټولې نړۍ ته عجیبه وه.

## په فراه کې د اوبو نوی کانال او بند جوړېږي



د ولسمشر په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون په فراه ولایت کې د نوي کانال کیندلو او د اوبو بند جوړولو په ګډون، ۱۷ تدارکاتي موارد منظور کړل.

له ارګه رسنیو ته په استول شوي خبرپاڼه کې راغلي، په دې غونډه کې ۱۸ تدارکاتي موارد و ارزول شول چې په پایله کې کمېسیون له ۲،۳۵ میلیاردو څخه د زیاتو افغانیو په ارزښت ۱۷ موارد منظور کړل.

سرچینه همدا راز کاږي چې د کانونو او پټرولیم وزارت د کابل، میدان وردګو او ننګرهار ولایتونو د مرمر ډبرو د ګټې اخیستنې قراردادونو د وضعیت ارزولو راپور کمېسیون ته وړاندې کړ، چې کمېسیون یې دوې برخې منظور کړې.

سرچینه وایي، په همدې حال کې د هېواد په ۲۶ ګمرکي سایټونو کې د سیکوډا چارو د پرمخ وړلو لپاره د انټرنېټي خدمتونو پروژې د تعدیل د منظورۍ وړاندیز د وروستي ځل لپاره د دریو میاشتو لپاره منظور شو.

# د دوحې له خبرو سره همماله؛ د کابل په پروني برید کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته



۳

د وحشتونو وروستۍ څپه

۲ مخ

راتلونکې ټاکنې او بایللی باور؛ ولس، حکومت، رسنۍ او کمېسیون باید څه وکړي؟

۲ مخ

باډي لنګوېچ

۳ مخ

## پر ټاکنو څارونکي بنسټونه:

## د تقویتي نوملیکنې پروسه ناکامه وه

په داسې حال کې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ۳۳ ولایتونو کې د نوملیکنې د بهیر له پای ته رسېدو خبر ورکوي، خو پر ټاکنو د څار بنسټونو دغه پروسه له لګښته ډکه او ناکامه بللې ده.

په ۳۳ ولایتونو کې ولسمشریزو ټاکنو ته د رایې ورکوونکو د نوملیکنې لړۍ او په غزني کې د رایې ورکوونکو سراسري نوملیکنه د غبرګولي په ۱۷مه پیل شوه او دا لړۍ په ۳۳ ولایتونو کې د روانې میاشتې په اتمه رسماً پای ته ورسېده، خو په غزني کې د یوې اونۍ لپاره وغځول شوه.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ، پرون په کابل کې خبري غونډې ته وویل چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د رایې ورکوونکو تقویتي نوملیکنه په بریالیتوب سره په ۳۳ ولایتونو کې پای ته ورسېده.

د هغې په خبره، د تقویتي نوملیکنې په لړۍ کې د چنګاښ تر اتمې پورې پر شرایطو برابر د کوچیانو په ګډون له ۳۰۰ زرو تنو ډېرو کسانو نوملیکنه کړې ده.

خو د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا رییس یوسف رشید ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د تقویتي نوملیکنې له پیل څخه مخکې د دې پروسې په باره کې خلکو ته د پوهاوي ورکولو په برخه کې ډېره پاملرنه کړې وای. نوموړي دې ته په اشارې چې ډېرې ځوانان چې د اتلس کلنۍ عمر یې نوی پوره کړی او یوشمېر نور چې د نورو دلایلو په سبب له نوملیکنې پاتې شوي دي، ویلي چې د ټولنې پراخه قشر د رایې ورکولو د مرکزونو د محدودیت، ناامنۍ او عامه پوهاوي ته د لږ پاملرنې په سبب له نوملیکنې پاتې شوي دي.

## د دوحې په بین‌الافغاني ناسته کې به د لسو طالبانو په ګډون نږدې ۸۰ تنه ګډون کوي



۳ مخ

## یونیسف: کودکان مبتلا به سوءتغذی در افغانستان ۲۸ درصد افزایش یافته‌است



اداره حمایت از کودکان سازمان ملل متحد یا یونیسف گفته است، در سال جاری تعداد کودکان مبتلا به سوءتغذی در افغانستان ۲۸ درصد افزایش یافته‌است.

بر اساس اعلامیه اداره یونیسف، این بررسی در ۳۴ ولایت افغانستان انجام شده است و تخمین می‌شود که در سال جاری ۲۰۱۹ میلادی شمار کودکان کمتر از پنج سال مبتلا به سوءتغذی در افغانستان به دو میلیون برسد.

به گفته اداره یونیسف، حدود شش میلیون و سه صد هزار تن در افغانستان به مساعدت‌های عاجل بشری نیاز دارند که سه میلیون و هفت‌صد هزار تن آن‌ها کودکان اند.

در این گزارش، ۲۲ ولایت افغانستان بیشتر از سوءتغذی متأثر خوانده شده‌است.

این اعلامیه اداره حمایت از کودکان سازمان ملل متحد یونیسف در حالی نشر شده که دیروز در شهر بروکسل پایتخت بلجیم کنفرانس بین‌المللی «کلستر دو» در مورد افغانستان دایر شد.

در این کنفرانس در مورد شیوه‌های از بین بردن سوءتغذی در افغانستان بحث شد.

این در حالی است که قبل از این هم اداره یونیسف از کشورهای کمک کننده خواسته بود که وضعیت کودکان در افغانستان وخیم تر است و این کشورها باید هرچه زودتر به این معضل رسیده کنند.

این اداره همچنان افزوده است که همین اکنون ۵۷۰ هزار کودکان به کمک‌های جدي نیاز دارند.





Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـــځ

## د وحشتونو وروستۍ څپه

پـرون پـه کابـل کـې د دفـاع وزارت پـه یـوه اړونـده اداره وسـله وال بريـد وشـو، چـې پکـې لويـه مـرګ ژوبلـه ملکـي وګـړو تـه واوښـتله. بريد لـه ملکـي وګـړو پـه یـوه ډکـه سـیمه کـې شـوی، چـې د ځـاني زيانونـو تـر څنـګ يـې پـراخ مـالي زيانونـه هـم اړولي دي. طالبانـو د بريـد مسـووليت منلـی دی. تـر دې وړانـدې ګـډو ځواکونـو ورمـه شـپه پـه وردګـو کـې پـر يـوه مدرسـه بريد کـړی و او نهـه ماشـومان يـې پکـې وژلي وو.

دا بريدونـه لـه څـو اړخونـو د اندېښـنې وړ دي. لومړی دا چـې ډېری ملکـي وګـړي پکـې وژل کېـږي. کلـه چــې د ملکـي خلکـو د کورونـو او يـا لـه ملکـي خلکـو پـه ډکـه سـيمه کـې يـو داسـې هـدف وي چـې وسـله وال طالبـان او يـا حکومـت او امريـکا پـرې بريـد کـوي، نـو واضـح ده چـې ملکـي وګـړو تـه مـرګ ژوبلـه اوړي. کـه د جګـړې لـه ښـکېلو اړخونـو سره لږ هـم د ارزښـتونو بحـث مطـرح وي او د ملکـي وګـړو ژونـد ورتـه مهـم وي، نـو بايـد دا بريـد ونـه کـړي. هېـڅ هـدف د دوی دغـه بريدونـه نـه شي توجيـه کولـی. پـرون طالبان ښـه پوهېدل چــې د دوی د موخــې شــاوخوا ټــول ملکــي وګـړي اوسـېږي، د اسـتوګنې بلاکونـه دي او آن ښـوونځي دي، خـو بيـا يـې هـم بريـد وکـړ. بريـد لومـړی پـه يـوه سـتره چاودنـه پيـل شـو، چـې ډېـر خلـک يـې ټپيـان کـړل. دوی ښـه پوهېـدل چـې د ملکـي وګـړو پـه منـځ کـې دا ډول بريـد پـراخ ملکـي تلفـات لـري، خـو بيـا يـې هـم بريـد وکـړ. همداسـې حکومتـي او امريکايـي ځواکونـه هـم همـدا کار کـوي. پـه نيمـه شـپه پـه يـوه کـور ور وغورځـي، کـه ښـځه، ماشـوم يـا بـل هـر څـوک پـه مخـه ورشي، وژني يـې. دوی د يـوه طالـب لپـاره پـر ټـول کـور او کلي بمونـه غورځـوي. د يـوه وسـله وال طالـب لپـاره پـوره دينـي مدرسـه او يـا هـم د ملکـي وګـړو موټـر بمبـاروي او ډېـر ملکيـان پکـې وژني. دوی ښـه پوهيـږي چـې پـه کلي کـې ملکيـان وي، دوی ښـه پوهيـږي چـې د دوی د بريـد پـه سـيمه کـې ملکيـان شـته، خـو بيـا هـم د ملکيانـو ژونـد تـه پـام نـه کـوي او بريـد کـوي. دا وحشـت دی چـې لـه هېـڅ لـوري او پـه هېـڅ ډول نـه شي توجيـه کېدلـی.

د دغـو بريدونـو بـل زيـان دا دی چـې د سـولې پـر روانـو خـبرو منفـي اغېـز کـوي. د سـولې د خـبرو پر مهـال کـه داسـې بريدونـه کېـږي، نو دا پـر سـوله منفـي اغېـز کـوي. کـه امريـکا لـه طالبانـو سره خـبرې کـوي، خـو پـه کليـو کـې پـر خلکـو درانـه بمونـه غورځـوي، نـو دا ښـکاره کـوي چـې دوی پـه سـوله کـې صـادق نـه دي. همداسـې کـه طالبـان لـه امريـکا سره خـبرې کـوي، خـو پـه کابـل کـې د ملکـي وګـړو د اوسـېدو پـه ځـای کـې بريدونـه کـوي، نـو دا د سـولې ضـد خوځښـت دی چـې د سـولې لپـاره د دوی پـر اراده شـکونه زياتـوي.

دواړو اړخونـو تـه پـکار ده چـې تاوتريخوالـی را کـم کـړي. کـه پـه بلـه برخـه کـې نـه وي، لږ تـر لـږه د ملکيانـو دا ډول وحشـيانه وژنـې بايـد ودريـږي. د ملکـي وګـړو لـه ګڼـې ګوڼـې پـه ډکـه سـيمه کـې بايـد بريدونـه ودرول شي او نـور د ملکيانـو لـه ژونـد سره دومـره بـې توپيـره چلنـد ونـه شي.

# راتلونکې ټاکنې او بایللی باور؛

## ولس، حکومت، رسنۍ او کمېسیون باید څه وکړي؟

لیکنه: ایمل مړوند

د افغانسـتان راتلونکـو ولسـمشريزو ټاکنو تـه د ټاکنـو د کمېسـيون د اعـلان لـه مخـې نـږدې دری مياشـتې پاتـې دي، د ټاکنـو کمېسـيون وايي، ژمـن دي چـې دا ځـل بـه ټاکنـې پـر خپـل وخـت او پرته له کـوم ځنډه تـر سره او پايلـې بـه يې هم ژر اعـلان کـړي، خـو پـر ټاکنـو د څـار ځينـې بنسـټونه او عـام خلـک اندېښـنه لـري، چـې ګونـدې پـه ولسـمشريزو ټاکنـو کـې بـه هـم د ولسـي جرګـې د ټاکنـو تجربـې تکـرار شي.

**ټاکنې یا انتخابات**

ټاکنـې د پرېکـړې کونـې يـوه رسـمي پروسـه ده، چېـرې چـې خلـک يـا وګـړي د حکومتـي منصـب د نيونـې پـه موخـه يـو څـوک ټاکـي. ټاکنـې خلکـو تـه پـه خپـل حکومـت کـې د دې آزادي ورکوي، چـې د خپلې خوښـې کسـان، چـې دوی فکـر کـوي لـه نومـوړو څخـه د حکومت پـه کچـه ښـه اسـتازيتوب کولـی شي، وټاکـي. ټاکنـې همداشـان خلکـو تـه د دې زمينـه برابـروي، چـې وکـړای شي د هغـو ډول ډول قوانينـو او پاليسـيو پـه اړه چـې د رايـې ورکونـې پـه پاڼـه کـې ځـای پـر ځـای شـوي دي، خپلې رايـې ورکـړي. دغـه پروسـه د هـر هېـواد د وګـړو يـوه برخليـک ټاکونکې پروسـه ده. کـه څه هم پـه افغانسـتان کـې لا ټاکنـې ځوانې دي، خـو بيـا هم مـوږ په تېرو دوو لسيزو کې د دريو دورو ټاکنو شاهدان وو او اوس بايد ډېـر ښـه وپوهېږو چـې د ټاکنـو ارزښـت زمـوږ د برخليـک پـه ټاکلـو کـې څومـره اړيـن او مهـم دی. کـه خلـک د ټاکنـو له ارزښـت نـه پـه سـمه توګه خبر شي، نو د خپـل برخليـک پـه ټاکلـو کـې بـه لـه ډېر فکـر او غـور نه کار واخـلي؛ ځکه هېڅوک هـم نـه غـواړي چـې راتلونکـې يـې خرابه شي.

**خلک ولې بې باوره دي؟**

ډېـری افغانـان د ۲۰۱۴ ز کـال د ولسـمشريزو ټاکنـو لـه لانجـو او جنجالـو وروسـته چې بالاخـره پکې په افغانسـتان کـې د مـلي يـووالي پـه نـوم ګـډ حکومت رامنـځ تـه شـو، د ټاکنـو پروسـې او بهير تـه د شـک پـه نظـر ګـوري. دوی داسـې انګېـري چـې ګونـدې پـه افغانسـتان کـې ټاکنـې تـر ډېـره يـوه نمايـشي پروسـه ده او پـه اصـل کـې سـياسي جوړجـاړی مهم دی. د خلکـو دغـه بـاور تـه هغـه وخـت لا ډېـر زيـان رسـېږي، کلـه چـې دوی د ولسـي جرګـې تېـرې ټاکنـې تجربـه کـوي، چـې د ځينـو ولايتـو پايلـې ان لـه څـو مياشـتو ځنډ وروسـته لـه اعتراضونو او جنجالونـو سره يـو ځـای اعلان شـوې. د ولسـي جرګـې دغـو ټاکنـو ولـس تـر پخـوا څـو چنـده لا پـر دغـه ولسـي او ډيموکراټيکـه پروسـه بې بـاوره او پر خپله رايه پښـېمانه کـړ. لومړی سـتونزه د رايې اچونـې پـر ورځ د کمېسـيون تخنيکـي سـتونزې وې چـې ډېـری کسـانو ونـه شـوی کولـی چـې د تخنيکـي سـتونزو له املـه خپلـه رايـه وکاروي. همدارنګه ټاکل شـوې وه چـې د رايـې اچونې بهير به يوه ورځ دوام کـوي، خـو دويمـې ورځـې تـه هـم رايـې اچونـې دوام پيـدا کـړ.

تـر هغـې وروسـته د پايلو د اعلان مسـئله دومـره وځنډېـده چـې ان ځينـو خلکـو او نوماندانـو لاريونونـه وکـړل. همدارنګـه د پايلـو پـر وخـت نـه اعـلان د خلکو بـاور پر دغـه بهيـر نـور هـم زيانمن کړ او دا شـک يـې ورته پـر يقين بدل کړ چـې د ولس او خلکـو رايه ارزښـت نـه لـري، بلکې اصلي خبره سـياسي جوړجـاړی دی.

همدارنګـه د ټاکنو پر کمېسـيون د فساد او بـډو اخيسـتو تورونـه هـم ولګېـدل او داسـې ويل کېـږي چې په تېـرو پارلماني ټاکنـو کې لکونه ډالر لاس په لاس شـوي او دا شـک هغـه وخت پر رښـتيا بدل شـو چـې حکومت د ټاکنـو کمېسـيون ډېری کارکوونکـي لـه دنـدو لـرې او ان ځينـې يـې څارنوالـۍ تـه معرفي کـړل.

دا ټـول هغـه څـه وو، چـې د خلکـو او ولـس بـاور يـې د ټاکنـو پـر بهير زيانمـن کـړ او داسـې انګېري چې په افغانسـتان کـې ټاکنـې هسـې نمايشي بهير دی او تـر ډېـره سـياسي جوړجـاړی مهـم دی، نـو اړتيـا نشـته چـې خلـک دې د دومره پراخـو امنيتـي ګواښـونو سره سره د رايـې اچونـې پـه پروسـه کـې ګـډون وکـړي.

پـر ټاکنـو د څار ځينې بنسـټونه او د دغه بهيـر ځينـې شـنونکي هـم وايـي، چې پر ټاکنـو د خلکـو بـاور خـورا راکـم شـوی او دا کـم بـاور بـه راتلونکـې ولسـمشريزې ټاکنـې هـم زيانمنـې کـړي.

**د ولس اراده که سیاسي جوړجاړی؟**

يـوه ډلـه شـنونکي بـاور لري، چـې د تېرو دورو ټاکنـو تـه پـه کتـو د خلکـو رايـو تـه ډېـر کـم ارزښـت ورکـړل شـوی او تـر ډېره د خلکـو او ولـس د ارادې ځـای سـياسي مصلحـت او يـا هـم پيسـو نيولـی دی. دوی وايـي، پـه حکومـت کـې سـهامي شرکـت، د ولسـي جرګـې د پايلـو پـه ځنـډ اعلان او وخت ناوختـه د ټاکنـو د نېټـو وروسـته کـول هغـه څـه دي، چـې لـه مخـې يـې داسـې معلومېږي چـې پـه افغانسـتان کـې د واک وېـش تـر ډېـره پر سـياسي مصلحتونـو او جوړجاړيـو ولاړ دی، خـو ځينـې نـور يـې بيـا بـاور لـري چـې د افغانسـتان سـياسي، امنيتـي او ټولنيـز وضعيـت ته پـه کتـو، ځينې وخت د ټاکنـو پـه پروسـه کـې ځنډ، خنډ او ځينـې نـورې تخنيکـي سـتونزې رامنځته کېـږي، خـو دا سـتونزې او نيمګړتيـاوې پـه ټولـه کـې دا مانـا نه لري چـې ګوندې حکومـت او سيسـټم د ولـس ارادې تـه په کمـه ګـوري او هغه تر پښـو لانـدې کوي. دوی دا هـم وايـې چـې د تېـرو پارلمـاني ټاکنـو د پايلـو ځنډېدل ممکـن د پايلو په ښـه او رڼـه توګـه د اعـلان لپـاره وي.

خـو پـه ټولـه کې نن سبا پر دغه پروسـه د ولـس بـاور بايللـی ښـکاري او داسـې اندېښـنه شـته چـې دغـه بـې بـاوري به د ټاکنـو را روان بهيـر ټکنـی او لـه سـتونزو سره مـخ کـړي. ځينـې عـام خلـک او ان راتلونکـو ولسـمشريزو ټاکنـو تـه ځينـې نومانـدان وخـت ناوخت دا اندېښـنې هم شريکـوي چې ګونـدې موجـوده حکومت د خپـل ځـان پـه ګټـه پـه ټاکنـو کـې لاسـوهنه کـوي، خـو حکومـت تـل دا ډول ادعـاوې رد کـړي او وايـي چـې د ټاکنـو چـارې د ټاکنـو خپلـواک کمېسـيون سـمبالوي، نـه حکومـت.

**د خلکو رول او مسوولیتونه**

ويـښ او ژونـدي ملتونـه تـل خپـل راتلونکـی پـه خپلـه ټاکـي. هغـه ملتونـه چـې ويـښ وي، د خپـل حـق پوښـتنه په خپلـه کـوي او نـه پرېږدي چې سياسـيون او يـا کـوم بـل څـوک يـې پـر راتلونکـي لوبـې وکـړي. ټاکنـې د حکومتـي منصب لپـاره د خلکـو د پرېکـړې کولـو قانـوني او ډيموکراټيـک حق دی. ولس مسـووليت لـري چـې پـه دغـه پروسـه کـې پـه خپـل ګـډون سره هغـه خلـک واک تـه ورسـوي چـې دوی فکـر کـوي، نومـوړي د دوی د خوښـې او ارادې ښـه تمثيـل کولی شي. حکومتونـه خلـک جـوړوي او همدا خلک مسـووليت لـري، چـې لـه حکومتـي چارو نـه څارنـه وکـړي او کـه د دوی د ارادې او خوښـې تمثيـل پکـې نـه کېـږي، د مدني اعتراضونـو لـه لارې يـې ورتـه پـام راوګرځـوي.

د ټاکنـو پـه بهيـر کـې هـم د ولـس رول او ونـډه يـوازې تـر رايـې اچونـې پـورې محـدوده نـه ده، بلکې دا د ولس حق دی چـې لـه دغې پروسـې نـه څارنه وکړي او کـه سـتونزه وينـي، بايـد غـږ پورتـه کـړي. همدارنګـه ولـس بايـد متوجـه اوسـي چې تـر رايـې اچونـې وروسـته يـې څـوک پر رايـو او اراده نامشروع معاملـه ونـه کـړي او کـه داسـې احسـاس کـوي، بايـد چوپ پاتـې نـه شي او خپـل غـږ اوچـت کـړي. لـه بـده مرغـه بـه ووايـم چـې زمـوږ ولس هـم خپـل رسـالت او مسـووليت پـه سـمه توګـه نـه دی ترسـره کـړی، سـمه ده چـې پـه سختو امنيتـي شرايطـو کـې د ټاکنـو پـه پروسـه کـې برخـه اخـلي، خـو بيـا يې نـه نظـارت کـوي او نـه د خپلـې رايـې او ارادې پوښـتنه، نـو کلـه چـې ولسـونه د خپلـو خـوړل شـويو حقونـو پـر وړانـدې چـوپ پاتـې شي، هغـوی بـه لـه همداسـې پايلـو سره مـخ کېـږي.

**تللی باور بیا څنګه راتلی شي؟**

اوس د ټاکنـو کمېسـيون تـه څه پکار دي چـې د خلکـو زيانمـن شـوی باور پـر دغه پروسـه بانـدې پيدا شي؟

تـر ټولـو مهمـه خبـره دا ده چـې د ټاکنـو کمېسـيون بايـد په خپلـو پرېکـړو او خپلو چـارو کـې لـه جديت څخـه کار واخـلي، ولـس تـه بايد وښـيي چـې دا کمېسـيون رښـتيا هـم يـو خپلـواک کمېسـيون دی او کولـی شي چـې خپلواکـې پرېکـړې وکـړي. همدارنګـه د زورواکـو پـر وړانـدې هـم جـدي واوسي، پـرې نـه ږدي چـې د دوی پـه چـارو کـې زورور کسـان لاسـوهنه وکـړي، ان حکومـت تـه بايـد دا زمينـه برابـره نه کـړي چې د کمېسـيون په چارو کـې لاسـوهنه وکـړي.

همدارنګـه بايـد لـه خپلـو کـړو پرېکـړو څخـه پـه کلکـه دفـاع وکـړي او عمـلي يـې کـړي او تـر ټولـو مهمـه مسـئله دا ده چې پـه دغـه کمېسـيون کـې د بـډو اخيسـتو او فسـاد مخنيـوی وکـړي. فسـاد دی چـې دغـو ټولـو بـې باوريـو تـه لاره هـواروي. پـه تېـرو پارلمـاني ټاکنـو کـې يـوه لويـه سـتونزه د ټاکنـو کمېسـيون د کارکوونکـو د ظرفيتونـو ټيټوالـی و، دوی د بايومټريـک لـه الـې کار اخيسـته، خـو خپلـو کارکوونکـو ته يې سـمه روزنـه نه وه ورکـړې، نـو دا ځـل بايـد تـر ټولـو لومـړی د خپلـو کارکوونکـو د ظرفيتونـو لوړولـو تـه کار وکـړي چـې د ټاکنـو پـر ورځ يـې چـارې لـه خنډ سره مـخ نـه شي.

د دې ترڅنـګ بايـد پـر اعـلان کـړې نېټه ټاکنـې وکـړي او پايلـې يـې ډېـر ژر لـه خلکـو سره شريکـې کـړي. دا چې شـاخوا دری مياشـتې ټاکنـو تـه پاتـې دي، دوی بايـد د خلکـو د عامـه پوهـاوي لپـاره پروګرامونـه جـوړ او پلـې کـړي. خلکـو تـه د رسـنيو او نـورو تبليغـاتي لارو د ټاکنـو د ارزښـت پـه اړه معلومـات ورکـړي. د ټاکنو پـه ورځ بايـد د حکومـت پـه مرسـته ټولـو افغانانـو تـه دا زمينـه برابره کـړي، چې په دغـه پروسـه کـې برخـه واخـلي؛ ځکـه د ټاکنـو يـو اصـل عمومـي والـی دی.

**د حکومت مسوولیت**

حکومـت تـر ټولو لومړی بايد خلکـو ته د سراسري ټاکنـو زمينه برابره کړي، داسـې ټاکنـې چـې د افغانسـتان د ګـوټ ګـوټ اوسـېدونکي پکـې برخـه واخـلي، لکـه مخکـې مـو چـې وويـل، د ټاکنو يـو اصل ټوليزتـوب دی، نـو حکومـت مسـووليت لـري چـې دا زمينـه خلکو ته برابـره کړي. د دې ترڅنـګ حکومـت بايـد خپـل بـې پرېوالـی وسـاتي او داسـې زمينـه برابره نـه کـړي چـې ولـس پـرې د مداخلـې کولـو لـه املـه شـکمن شي. همدارنګـه حکومـت مسـووليت لـري چـې د ټاکنـو لـه کمېسـيون سره پـه هغـو برخـو کـې پـوره پـوره مرسـته وکـړي چـې پـه حکومت پـورې اړه لـري.

**د رسنیو ونډه او رول**

رسـنۍ د ټاکنـو د پروسـې پـه څارنـه کـې مهـم رول لوبـوي. د ټاکنـو د پروګرامونـو او کمپاينونـو تـر پوښـښ لانـدې راوسـتلو سره، رسـنۍ د دې ډاډ ورکـوي، چـې خلـک د هغـه څـه پـه اړه چـې روان دي، خبر کـړي. د رسـنيو لـه لـوري د ټاکنو په سـمه توګـه تـر پوښـښ لانـدې راوسـتل کولـی شي چـې د ټاکنـو، نوماندانـو، او د ټاکنـو د اړونـده مسـئلو پـه اړه د خلکـو په مالوماتـو کـې زياتوالـی راولي.

د رسـنيو پـه مرسـته د ټاکنـو تـر پوښـښ لانـدې راوسـتل او د نوماندانـو د کاري چـوکاټ او د ټاکنـو پـه اړه يـې څېړنـې، رايـې ورکوونکـو تـه د هـر نومانـد پـه اړه د اړينـو مالوماتـو د تـر لاسـه کولـو زمينـه برابـروي، څـو هغـوی وکـړای شي چـې د رايـې ورکونـې پـه ورځ د خپلـې خوښـې د نومانـد پـه اړه پـه پـوره پوهـاوي سره رايـې ورکـړي. پـر دې سربېـره، دغـه کار رايـې ورکوونکـو تـه پـه رايـې ورکونـه کـې د ګـډون پـه موخـه د رايـې ورکونـې ورځ، سـاعت او د رايـې ورکونـې د مرکزونـو پـه اړه کـره مالومـات هـم ورکـوي.

رسـنۍ تـر بـل هـر څـه د ټاکنـو د بهير په څارلـو کـې ډېـره زياتـه او سـتره ونـډه پـر غـاړه لـري. همـدا رسـنۍ دي چـې خلـک د ټاکنـو د روانـې پروسـې لـه پـړاو پـړاو څخـه خـبروي او د ننګونو او بريـاوو پـه اړه ورتـه کـره معلومـات ورکـوي. د نوملیکنـې لـه بهيـر نـه نيولـې ان د رايـې اچونـې تـر ورځـې پورې رسـنۍ ملي او ژورناليسـتيک رسـالت لري چې بايد ولس ته رښـتيني، کـره او بـې لـوري معلومـات ورکـړي. کـه رسـنۍ نـه وي او يـا هـم خپـل مسـووليت پـه سـمه توګـه سرتـه ونـه رسـوي، نـو ولس بـه څنګـه پـوه شي چـې څـوک د دوی د رايـې اصلي حقـدار دی.

همدارنګـه څنګـه بـه پـوه شي چـې کـوم نومانـد پـه واقعـي ډول د دغـه هېـواد او خلکـو خـادم او مـشر کېـدای شي. د ولسـمشريزو ټاکنـو لپـاره خـو لسـګونه تنـه ځانونـه نومـوي چـې د ډېـرو لاسـونه يـې د دغـه ملـت پـه وينـو سره دي، خـو همـدا رسـنۍ کولـی شي چـې خلکـو تـه د دغـو جنايتکارانـو اصلي څېـرې وښـيي او د هغـوی پـر مـخ اچـول شـوي نقابونـه لـرې کـړي. همـدا رسـنۍ دي چـې د خپلـو بېلابېلـو خپرونـو پر مټ د نوماندانو د پوهـې، د هغـوی د شـخصي ژونـد او سـياسي ريښـې پـه اړه معلومـات ورکـوي او بالاخـره ولـس او وګـړي قضـاوت کـوي، چـې څـوک او يـا کـوم کانديـد يـې د باور وړ دی.

# د دوحې له خبرو سره هممهاله،
# د کابل په پروني برید کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته



پرون سهار یوې درنې چاودنې د کابل ښار سکون او ارام واخیست. څه کم نهه بجې وې چې د کابل ښار د شپاړسمې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې د وسله والو طالبانو ځانمرګو بریدګرو د ملي دفاع وزارت د لوجستیک پر مرکز موټر بم برید وکړ. چاودنه خورا درنه وه او د کابل ښار تر لرو پرتو سیمو یې غږونه واورېدل شول. له چاودنې ان څو کیلومتره لرې هم د خلکو د کورونو او دفترونو ښیښې ماتې شوې او وېره خپره شوه. شاوخوا ښوونځي او پوهنتونونه هم له دې پېښې زیانمن شوي دي.

داسې مهال چې په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ مخامخ خبرې روانې وې، طالب وسله والې ډلې په کابل ښار کې خونړی ډله ییز برید وکړ. وروستي معلومات ښيي چې په برید کې د ماشومانو په ګډون ۳ کسه وژل شوي او تر ۱۰۰ ډېر نور ټپیان دي. پوهنې وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره دغه برید غندلی او وایي چې په ننۍ پېښه کې یې ۵۳ زده کوونکي ټپیان شوي دي. د کورنیو چارو وزارت ویاند نصرت رحیمي بیا تېره ورځ ناوخته مسیر ورځپاڼې ته ویلي، چې په پېښه کې څلور کسان وژل شوي او ۸۴ نور ټپیان دي. هغه همدا راز ویلي چې دغه برید د پنځو بریدګرو په وژل کېدو پای ته رسېدلی دی.

د وسله والو طالبانو د تېرې ورځې برید په کور دننه او بهر له سخت غبرګون سره مخ شو. ډېرو هېوادونو او نړیوالو بنسټونو دغه برید وغانده او پر ملکي وګړو یې ورته بریدونه د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف عمل وباله. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د طالبانو ورته کړنې د سولې هڅې زیانمنوي او د ملکي وګړو وژل بشر ضد جنایت دی. خبرپاڼه وایي چې ملګري ملتونه په سیمه کې د زده کوونکو د ټپي کېدو له امله سخت ناراحته دي او د ورته بریدونو د درېدو غوښتنه کوي.

بل پلو د قطر د بهرنیو چارو وزارت هم دغه برید غندلی دی. قطر داسې مهال دغه برید غندلی چې د دغه هېواد په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې کېږي. د قطر د بهرنیو چارو وزارت وایي، هر هغه برید چې په هغه کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي، دوی یې غندي او په دې سختو او حساسو شېبو کې د افغانانو تر څنګ ولاړ دي.

ولسمشر غني هم د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره دغه برید په کلکو ټکو غندلی دی. د هغه په خبره، د افغانانو استازو د سولې په مشورتي لویه جرګه کې له طالبانو وغوښتل چې د سولې له پروسې سره یو ځای شي، له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي، خو دوی د عامو افغانانو په وژلو او ځورولو لاس پورې کړی دی. غني زیاته کړې، دا د افغانانو پر وړاندې د وسله والو طالبانو بشري جنایت دی او په کلکو ټکو یې غندي. ولسمشر وایي: ((د افغانستان حکومت د سولې مشورتي لویې جرګې د پرېکړو پر اساس د سولې پروګرام پرمخ وړي، خو طالبانو د دې وحشي برید په تر سره کولو سره یو وار بیا د جګړې د دوام او پر ملکي وګړو د برید په اړه خپل شوم نیت وښود)).

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم بیا روان تاوتریخوالی د هېچا په ګټه نه بولي. د نوموړي له دفتر په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په کابل کې د تېرې ورځې خونړی برید او د وردګو ولایت په چک ولسوالۍ کې پر یوه دارالحفاظ برید دواړه پر ملت بریدونه دي او دی یې په کلکو ټکو غندي. د پخواني ولسمشر په خبره، په هېواد کې پردۍ جګړه روانه ده او افغانانو ته پکار ده، چې د دغه جګړې د پای ته رسولو لپاره ژر تر ژره مخامخ خبرې پیل کړي. هغه همدا راز ویلي چې په هېواد کې روانې نښتې، جګړې او بریدونه د سولې له روانو هڅو سره په ټکر کې کړنې دي.

بل پلو د ملي شورا غړي بیا امنیتي او کشفي ارګانونه د دغه ډول بریدونو په تړاو په کمکارۍ او بې کفایتۍ تورنوي. د مشرانو جرګې مرستیال محمد علم ایزدیار پرون د دغه جرګې په ناسته کې د خبرو پر مهال وویل، چې د امنیتي او کشفي ارګانونو د بې کفایتۍ له امله وسله وال پر دې بریالي کېږي چې چاودېدونکي توکي د ښار منځ ته راوړي او دغه ډول خونړۍ کړنې ترسره کړي. هغه پر امنیتي ارګانونو غږ وکړ چې د پېښو په مخنیوي کې دې خپلې هڅې زیاتې کړي.

# سوداګر: حکومت دې د کانونو کیندنې لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي

د قیمتي ډبرو ځینو سوداګرو له حکومته غوښتي چې د کانونو کیندنې او قیمتي ډبرو د کاروبار لپاره دې په قانوني ډول زمینه برابره کړي.

د ننګرهار، کونړ، لغمان، نورستان او خیبر پښتونخوا سوداګرو چې تېره ورځ په کونړ ولایت کې راټول شوي وو، دغه څرګندونې یې کړې دي.

د دغو سوداګرو له ډلې مولوي محمد اسماعیل ویلي چې حکومت باید داسې زمینه برابره کړي، څو له بهره سوداګر افغانستان ته راشي او دلته د قیمتي ډبرو راکړه ورکړه وکړي.

هغه ویلي: ((په دغه کار سره هم حکومت ته ګټه رسېږي او هم خلکو ته د کار زمینه برابرېږي».

ده ټینګار کړی چې حکومت باید د قیمتي ډبرو سوداګرو ته د ټکس په مقابل کې داسې کارتونه ورکړي، چې په ټول هېواد کې د اعتبار وړ وي، څو دوی وکولای شي په اسانه خپل کاروبار وکړي.

دغه راز د ننګرهار د قیمتي ډبرو د مارکېټ مشر حاجي مسکین ویلي چې سوداګرو ته دې له سلا مشورې وروسته په کونړ کې د قیمتي ډبرو یو مارکېټ جوړ شي او تر څنګ دې یې په ټول هېواد کې د قیمتي ډبرو انتقال ازاد کړای شي.

نوموړي ویلي چې د قیمتي ډبرو د سوداګرۍ لپاره دې د حکومت له لوري ځانګړي اصول هم وضعه شي.

بلخوا د خیبر پښتونخوا د مالګې منډوي یوه سوداګر حزب الله ویلي چې د پاکستان د پېښور ښار په نمک منډوي کې زرګونه افغان سوداګر د قیمتي ډبرو کاروبار کوي.

هغه ویلي: ((په دغه مارکېټ کې تر ټولو ښې او قیمتي ډبرې د افغانستان دي، خو د افغانستان کانې د پاکستان په نوم نورو هېوادونو ته صادرېږي».

هغه ویلي، افغان حکومت باید دغو سوداګرو ته زمینه برابره کړي، څو د قیمتي ډبرو په برخه کې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

د غونډې په پای کې د کونړ والي عبدالستار میرزکوال ویلي چې په دغه ولایت کې د قیمتي ډبرو د پروسس او خرڅلاو مارکېټ جوړوي.

والي دا هم ویلي چې په کونړ کې یو انسټېټیوټ جوړوي، څو ځوانان د قیمتي ډبرو په برخه کې مسلکي زده کړې وکړي.

# د دوحې په بین‌الافغاني ناسته کې به د لسو طالبانو په ګډون نږدې ۸۰ تنه ګډون کوي

ټاکل شوې چې د جولای په ۷مه او ۸مه د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان حکومت، طالبانو او افغان سیاسیونو په ګډون، بین‌الافغاني کنفرانس تر سره شي.

ویل کېږي چې د افغانستان لپاره د جرمني استازي له طالبانو سره په قطر کې پر دغه کنفرانس څو ځله مجلس کړی او د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني او د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له جرمني نه په دې تړاو لیدنه کړې ده.

د افغانستان لپاره د جرمني ځانګړی استازی وایي، چې برلېن د قطر دفتر په پرانیستو کې ټاکونکی رول درلود او له طالبانو سره یې له ۲۰۱۳ ز کال نه تر اوسه خپلې اړیکې ساتلې دي.

د دوحې بین‌الافغاني کنفرانس ته چې دغه هېواد پکې د سهولت رامنځته کوونکي رول لري، د ۸۰ په شاوخوا کې کسان غوښتل شوي، چې د طالبانو لس تنه استازي، افغان سیاستوال، د حکومت استازي او د مدني ټولنې او ښځو استازي پکې شامل دي.

د نوې ملي جبهې رییس انورالحق احدي په دې اړه وایي: «هیله من یو چې طالبان او امریکایان په خپلو کې ژر یوې هوکړې ته ورسېږي او د هغې په تعقیب سره به د سیاسیونو او طالبانو ترمنځ د افغانستان د راتلونکي په تړاو هوکړه کېږي».

په دغه کنفرانس کې به د مدني ټولنې په استازیتوب هم یوه ډله کسان برخه اخلي، خو د دغو کسانو د انتخاب پروسیجر تر اوسه نه دی روښانه شوی.

د دوحې د بین‌الافغاني ناستې لپاره تیاری په داسې حال کې دی، چې له دې وړاندې په مسکو کې د بین‌الافغاني مذاکراتو دوه ناستې شوې او د قطر په پلازمېنه دوحه کې یې هم د تر سره کېدو لپاره وخت ټاکل شوی و، خو د افغان حکومت د مخالفت له امله د دغه بهیر درېیمه ناسته وځنډېده.

بلخوا د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین پر خپل ټویټر لیکلي، چې د نړیوالو ناظرانو په حضور کې د بهرنیو ځواکونو مهالوېش تر اعلان وروسته به له افغاني جهتونو سره د سولې خبرې پیلوي.

شاهین ویلي، چې دغه خبرې به یوازې له افغاني جهتونو سره وي، نه د حکومت په حیث د کابل له اداري سره.

# ډیموکراټان: د ټرمپ هڅې به له شمالي کوریا سره اټومي لانجه حل نه کړي



د امریکا د کانګرېس ډیموکراټو غړو او د ولسمشرۍ ټاکنو ځینو نوماندانو ویلي، ډېر ډاډه نه دي چې د ډونالډ ټرمپ هڅې به د شمالي کوریا د اټومي لانجې د حل لپاره ښه پرمختګ وکړي.

د متحده ایالتونو د ډیموکراټ ګوند څو مخکښو غړو د شمالي کوریا له مشر کیم جونګ اون سره د ټرمپ پر وروستۍ لیدنه توندې نیوکې کړې دي.

دوی دغه راز ویلي چې له کیم جونګ اون سره به د ټرمپ وروستۍ ناسته یوازې په عکس اخیستو تېره شوې وي.

د دغه هېواد مخکښ سناتور برني سنډرز چې د ۲۰۲۰ ز کال ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د ډیموکراټانو یو کاندید بلل کېږي، ویلي چې د امریکا له مخالفینو سره د ټرمپ د ناستې پر ضد نه دی، خو باید په خبرو کې د ستونزو د حل لپاره ډیپلوماټیک چلند وشي.

هغه دغه راز زیاته کړې: «اندېښنه د هغه «ټرمپ» په ډېره بې ثباتۍ کې ده. زه له کېم جونګ اون سره په شمالي کوریا یا بل هر ځای کې د ټرمپ د ناستې مخالف نه یم. زه نه غواړم چې دی یوازې عکسونه واخلي. ټوله دنیا او رسنۍ څیر وې چې سبا او بله ورځ څه کېږي؟ که موږ دې نړۍ ته سوله راولو موږ باید ډېر ډیپلوماټیک مخته لاړ شو، نه دا چې یوازې عکسونو ته ودرېږو».

د امریکا د کانګرېس یوه بل سناتور چک شومر ویلي، داسې ښکاري چې ډیکټاټوران پر مخ روان دي او هغه خلک چې پر ډیموکراسۍ باوري دي، مخ ته نه ځي.

د امریکایي سناتورانو دغه اندېښنې داسې مهال دي چې ولسمشر ټرمپ او د شمالي کوریا مشر کېم جونګ اون ورمه ورځ د شمالي او جنوبي کوریاګانو ترمنځ په ګډه پوله کې سره وکتل او ان د لومړي ځل لپاره د دواړو کوریاګانو خاورو ته ننوتل.

دواړو مشرانو په مخکنیو ناستو کې چې لومړۍ یې تېر کال په سینګاپور او دویمه هغه یې سږ کال په فبروري کې په ویتنام کې وشوه، له اټومي وسلو د کوریا ټاپووزمې د پاکولو او پر دغه هېواد د نړیوالو بندیزونو د لرې کولو پر سر خبرې کړې وې.

د دواړو هېوادونو د مشرانو لومړنۍ ناسته که څه هم د اړیکو د پیل لپاره مثبته بلل شوې وه، خو دویمه یې بې پایلې پای ته ورسېده.

د ورمې ورځې او درېیمه لیدنه کې ټرمپ د امریکا د لومړي برحاله ولسمشر په توګه د لومړي ځل لپاره د شمالي کوریا خاورې ته دننه شو او له کېم جونګ اون سره یې روغبړ وکړ.

هغه خبریالانو ته وویل: «موږ په دې سرحدي سیمه کې ولیدل او هغه ته مې وویل چې غواړی درشم؟ هغه «کېم جونګ اون» وویل، زه به وویاړم، مهرباني وکړئ. ما ته د ویاړ ځای و چې دا کار مې وکړ. لیدنه مو ډېره ښه وه».

دواړو مشرانو د پردې تر شا پر یو لړ مهمو مسایلو خبرې هم کړې، خو جزیات یې تر اوسه نه دي په ډاګه شوي.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډیویډ شوارتز
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### دیارلسم څپرکی
### څنګه د رهبر په څېر فکر وکړو؟




یوه ورځ حالت بیخي خراب شو. هره ورځ به لس جنګه کېدل، کاغذي الوتکې او نورې شوخۍ خو عادي خبرې وې. بیا خبره تر دې ورسېده چې نیمه ورځ به یې ښوونکی له دروازې بهر ولاړ په تمه کړی و یا به یې بله ورځ په ټولګي کې دننه بندي کړی و. یوه ورځ د لوړو ټولګیو شاګردانو پرېکړه وکړه چې ټولګي ته سپې ورسره راولي.

د یادونې وړ ده چې دا هلکان بد نه وو. غلا، وهل او نور تاوتریخوالي یې نه کول. دوی کلیوال خلکو وو او داسې فرصتونه یې لټول چې دوی کې راټوله انرژي پکې ازاده کړي. ښوونکی په یوه چل د کال تر پایه پاتې شو او بلاخره نوي کال کې له تمې سره سم بل ښوونکی راغی.

نوي ښوونکي هلکان بیخي جلا فعالیتونو ته وهڅول. د هغوی فردي غرور او شخصیت ته یې پام وکړ. سم درک او قضاوت ته یې وهڅول. هر شاګرد ته یې خپل کار سپارلی و، لکه تخته پاکول یا مینځل، د وړو شاګردانو کورنۍ وظیفې ته نومرې ورکول. د هلکانو دا انرژي پخوا منفي کارېده، خو دې استاد ورته نوې لارې پیدا کړې او تدریسي پلان یې د شاګردانو پر شخصیت متمرکز کړ.

د دې ځانګې شاګردان یو کال شیطانان او بل کال بیا سپېڅلي ملایکې شوې. دا ټول د ښوونکي په رهبرۍ پورې اړه لري. که رښتیا ووایو، په پوره یو کال کې شاګردان په شوخۍ ملامت کولای هم نه شو، ځکه دا ټولې زمینې استادان برابروي. لومړي ښوونکي د شاګردانو پرمختګ ته ارزښت نه ورکاوه. موخه یې نه ورته ټاکله. هڅول یې نه. پر ذهن یې واکمن نه و. ښوونه یې نه خوښېده. په دې خاطر یې شاګردانو هم له زده کړې سره علاقه نه درلوده.

خو د دویم ښوونکي معیارونه بیا بدل او مثبت وو. ماشومان پرې ګران وو او غوښتل یې چې وړتیاوې یې را وسپړي. هر ماشوم یې له بل جلا ګاڼه. نظم یې ښه په اسانه رامنځته کړ، ځکه خپلې چارې او پلانونه یې هم منظم او هدفمند وو.

زده کوونکو هم دواړو مواردو کې د ښوونکو له ورکړل شوې بېلګې او الګو سره خپل چلندونه سمول.

موږ هره ورځ په لویانو کې هم دا چاره وینو. دویمه نړیواله جګړه کې دا لیدل کېدل، په کومو ځانګو کې به چې مشران بې تفاوته وو، هلته به منظم اخلاقي موازین نه وو. ضربتي ځانګې به بیا د لوړو اخلاقي معیارونو لرونکو افسرانو رهبري کولې، ځکه پکې نظامي مقررات سم او په عادلانه ډول پلي کېدل. نظامي پرسونل هم بې شخصیته مشرانو ته هېڅ ارزښت نه ورکاوه.

د پوهنتون زده کړیالان هم له هغو بېلګو الګو اخلي چې استادان یې ورته وړاندې کوي. مثلاً ګورو چې د یوه استاد محصلین غیرحاضري کوي، نقل کوي، خو همدا محصلین بیا له بل استاد سره درس وایي او ځان پر موضوع پوهوي.

په سوداګریز چاپېریال کې هم داسې کېږي. تاسې د کارکوونکو یوه ډله وارزوئ او د شرکت د اخلاقي اصولو په اړه یې خویونه، حرکات او لیدلوري وارزوئ. بیا همدا پایله د دوی له مشرانو سره پرتله کړئ. جالبې پایلې به ووینئ.

هر کال سلګونه داسې شرکتونه بېرته رغول کېږي چې مخ پر ځوړ روان وي یا یې وده ورو وي. خو څنګه؟ په لوړه کچه کې ځینې مدیران بدلېږي. سازمانونه (پوهنتون، کلپونه، ټولنې، موسسې) د سازمان د تجدید لپاره اصلاح له پورته - ښکته خوا ته پیلوي، نه له ښکته - پورته خوا ته. په لوړو لیکو کې فکر بدل کړئ، ټیټو کې خپله بدلېږي.

دا مه هېروئ. تاسې چې د کومې ډلې رهبري اخلئ، د دې ډلې غړي پخپله ځان ستاسې له معیارونو سره عیاروي. دا موضوع په څو لومړیو اونیو کې ښه ښکاري. ټول خلک دې ته متوجه وي چې تاسې ته معلومات درکړي، پام درته وکړي او پوه شي چې تاسې ترې څه تمې لرئ. دوی ستاسې ټولو حرکتونو ته ګوري او ځان سره وایي: (ماته به د ځان ازمویلو څومره فرصت راکړي؟ دا کار به یې څنګه خوښ شي؟ په څه شي به خوشاله شي؟ که داسې وکړم څه به ووایي؟)

دوی چې کوم ځواب ته ورسېدل، پر هماغې عمل کوي. تاسې چې د رهبر په توګه نورو ته کومې الګوګانې ټاکئ، په هغه یو ځل بیا کتنه وکړئ.

له ځانه دا پوښتنه وکړئ چې که چېرې ستاسې په اداره کې ټول خلک ستاسې په څېر وي، نو اداره به څنګه وي؟

هماغسې فکر وکړئ، وغږېږئ، عمل وکړئ، ژوند وکړئ چې له خپلو مامورینو یې تمه کوئ، هغوی به ډېر زر ستاسې په څېر عمل وکړي.

له څه مودې وروسته مامورین خپله د رئیس پر لاره روانېږي. مثبتو چارو ته د رسېدو اسانه لاره دا ده چې د ارزښت له اصلي نسخې تقلید وشي. **دوام لري...**

# چرچېل

شفیق امیرزی

سېر وینستون لیونارد سپنسر چرچېل برېټانوی لیکوال او سیاستوال دی. د ۱۸۷۴ ز کال د نومبر په ۳۰مه زیږېدلی دی او د ۱۹۶۵ ز کال د جنورۍ په ۲۴مه مړ شوی دی. هغه وتلی لیکوال، سیاستوال او بشرپال انسان و. هغه د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د برېټانیا لومړی وزیر و او دغه هېواد یې مدیریت کاوه. چرچېل د ادبیاتو په برخه کې په ۱۸۵۳ ز کال کې د نوبل جایزه هم ګټلې ده. هغه د بشردوستۍ او انساني فکر د ودې لپاره ښه او اغېزناکه لیکوالي کړې ده. ټایم مجلې په ۱۹۴۹ ز کال کې چرچېل د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي غوره کس وباله. هغه د عامو خلکو په منځ کې د هوښیارۍ او چالاکۍ په مانا دی. هغه د نړۍ تر ټولو مشهوره سیاسي څېره او د چرچېل کورنۍ تر ټولو مهم او پېژندل شوی غړی دی.

ونیستون چرچېل په اوه کلنۍ کې سکوېټ خصوصي ښوونځي ته لاړ او دلته یې زده کړې پیل کړې. هغه په ښوونځي کې د زده کړو پر مهال له لامبو او اس ځغلولو سره مینه لرله. هغه دوه ځلې نظامي زده کړو ته دې داخلېدو لپاره ازموینه ورکړه، خو ناکام شو، تر دې چې وروسته بریالی شو. هلته یې د سپرو نظامیانو په لیکو کې زده کړې پیل کړې، خو له فراغت سره سم یې پلار ومړ. د چرچېل ډېره خوښېده چې د برېټانیا په استعماراتي جګړو کې ونډه واخلي، نوم وګټي، نشان یې لوړ شي او ثروت پیدا کړي. په ۱۸۹۵ ز کال کې د کیوبا جګړه پیل شوه او چرچېل د ډیلي ګراف ورځپاڼې د خبریال په توګه کوبا ته لاړ. هلته یې له پاڼې د ځانګړو سګرېټو په څکولو پیل وکړ او د هسپانویانو په څېر یې په نیمه ورځ کې د خوب کولو عادت پیدا کړ.

چرچېل په ۱۸۹۹ ز کال کې په جنوبي افریقا کې د بوئېرانو په جګړه کې ګډون کوي. په دې جګړه کې نوموړی نیول کېږي، خو په حیرانوونکې توګه بریالی کېږي چې له بنده وتښتي. بوئېر جګړه کوونکي د هغه د نیولو یا وژلو لپاره ۲۵ لیرې جایزه اعلانوي. برېټانویانو هغه مهال له بوئېرانو څو سر په سر ماتې خوړلې وې، نو برېټانیا د چرچېل تښتې ډېره لویه کړه او غوښتل یې چې خپلې ماتې تر شا پټې کړي. همدې چانس چرچېل مشهوره کړ او د دې سبب شو چې خلک د یوه اتل په سترګه ورته وګوري. ده هم له دې فرصت ښه استفاده وکړه او د دغه هېواد په پارلماني ټاکنو کې یې ګډون وکړ. هغه چې ډېر مشهور شوی و، نو په ټاکنو کې بریالی شو او دا مهال یې د محافظه کار ګوند غړیتوب درلود. وروسته له محافظه کار ګوند بېل شو او له لېبرال سره یو ځای شو.

په ۱۹۰۸ ز کال کې یې له کلمانتین هیوز سره واده وکړ. په ۱۹۱۱ ز کال کې چې کله المان په مراکش کې ځینې لاسوهنې وکړې، نو چرچېل په کلکه له المان سره د جګړې پلوی و. هغه له المان سره خپله دغه دښمني تر مرګه وپالله. د چرچیل المان ضد روحیه له همدې ورځې وروسته مخ په پیاوړې کېدو وه. په ۱۹۱۱ ز کال کې په برېټانوي بندرونو کې کارکوونکو اعتصاب وکړ، خو چرچېل دغه اعتصابونه او اعتراضونه سخت وځپل. هغه په دې وخت کې د انګلیس د کورنیو چارو وزیر و. د انګلیس حکومت غوښتل چې د سمندرونو د امنیت او په دې برخه کې د پوځ د لا پیاوړتیا لپاره یو قوي کس وګوماري، نو له همدې امله چرچېل دغه دندې ته غوره کړل شو. چرچېل چې پر دې دنده ګومارل کېږي، د خپلو خاطراتو په کتابچه کې لیکي، زه پر دې دنده خوښ یم، ځان له المان سره جګړې ته داسې تیاروم چې ته به وایې همدا سبا مې جګړه ورسره نښلې.



چرچېل همداسې وکړل، څه یې چې لیکلي وو، پر هغه یې عمل کاوه. د پوځ پیاوړتیا ته یې مخه کړه او د سمندري پوځ پر لا قوت یې ټینګار کاوه. د بېړیو د چټکتیا او قوت لپاره یې په ځینو اقداماتو لاس پورې کړ او تر پخوا درنې وسلې یې پر نظامي بېړیو نصب کړې. چرچېل د هغو کسانو له ډلې و، چې ژر تر ژره له المان سره د جګړې غوښتنه یې کوله. هغه له المان سره د جګړې تر اعلان نږدې پنځه میاشتې وړاندې له دې دندې لرې کړل شو او په نورو برخو کې د انګلیس جګړو ته ولېږل شو. په فرانسه کې یې په خونړیو جګړو کې برخه واخیسته او بېرته هېواد ته را وګرځېد. کله چې په ۱۹۱۴ ز کال کې برېټانیا ته راځي، نو لومړۍ نړیواله جګړه ختمه شوې وي او دی هم د دفاع وزیر ګومارل کېږي. په دې وخت کې د شوروي پر وړاندې د جګړې مشري او لارښوونه په غاړه اخلي.

د ۱۹۲۴ ز کال د نومبر تر ټاکنو وروسته، د انګلستان د خزانې وزیر شو. دا هغه مهال تر لومړي وزارت وروسته په برېټانیا کې تر ټولو مهمه څوکۍ وه. په ۱۹۲۷ ز کال کې ایټالیا ته لاړ او هلته یې له موسلیني سره وکتل. په ۱۹۳۳ ز کال کې یې د المان د قوي کېدو او نوي جنګ د پیلېدو وړاندوینه وکړه. هغه د استخباراتي شبکو په مرسته ځان باوري کړ چې المان غواړي ځان پیاوړی کړي. په ۱۹۴۰ ز کال کې چې المان پر ځینو ځایونو بریدونه کول، پادشا د کابینې د جوړولو واک چرچېل ته ورکړ. ده په ډېرې چټکۍ د پوځ د پیاوړي کولو امر وکړ. د فرانسې جګړه کې یې ځان ډېر فعال ثابت کړ. هغه بریالی شو چې په خپلو هڅو د برېټانیا کمزوری هوایي پوځ پیاوړی کړي او د المان هوایي ځواک شاتګ ته اړ کړي.

چرچېل چالاکه او له هنره ډک سړی و. ده المان له شوروي سره جګړې ته هڅاوه. ده به ویل، په هر ډول چې کېږي باید هیټلر په جګړه کې وي او دی یې هم د مخالف هېواد ملاتړ کوي. ده امریکا هم هڅوله چې له المان سره جګړې ته داخله شي. چرچېل استعماري روحیه لرله. په ۱۹۴۲ز کال کې یې د نهرو او ګاندي د نیولو امر ورکړی و. چرچېل په پوره هنر غوښتل چې خپل حریف هېوادونه لکه المان او شوروي په خپلو کې سره وجنګوي. ده غوښتل چې د شوروي اتحاد بنسټونه او قوت د المان له لارې کمزوری کړي او په خپل دې کار کې بریالی هم و.

د ۱۹۴۵ ز کال د مې په ۲۳مه د المان له تسلیمېدو یوازې ۱۵ ورځې وروسته چرچېل اړ شو، چې استعفا ورکړي. د دې مسئلې دلیل دا و، چې خلکو نور جګړه کوونکي سیاستوال نه غوښتل. دوی غوښتل له دې وروسته د حکومت په مشرتابه کې داسې کسان وي چې دوی سوله پال وي او د سولې لپاره کار وکړي. دا چې چرچېل له شوروي سره کلکه دښمني لرله، نو خلکو رایه ور نه کړه. هغه میسوري ایالت په ویست منیسټر پوهنتون کې د خبرو پر مهال وویل، چې جګړه نه ده ختمه شوې. ده به ویل، ښایي بله نړیواله جګړه پیل شي او دا ځل د سړې جګړې خطر هم شته دی. چرچېل د خپل عمر لس وروستي کلونه په ارامۍ او سکون کې تېر کړل. په ۱۹۵۸ز کال کې مارشال دوګول هغه د فرانسې تر ټولو ښه ملګری وباله. په ۱۹۶۳ ز کال کې امریکا چرچېل ته افتخاري تابعیت ورکړ.

په ۸۷ کلنۍ کې چرچېل په موند کارلو کې ولوېد، د ورانه هډوکی یې مات شو؛ خو په چټکۍ یې درملنه وشوه. په ۱۹۶۴ ز کال کې یې د پارلمان له غړیتوبه استعفا ورکړه او په همدې کال کې یې د ۹۰ کلنۍ مراسم ترسره شول. د ۱۹۶۵ز کال په جنورۍ کې چرچېل ناروغ او بستري شو. د همدې میاشتې په ۱۵مه یې مغزي خونریزي پیدا کړه او د جنورۍ په ۲۴مه ومړ. د هغه جنازه په پوره قدر او شکوه د بلادون کلیسا په یوه هدیره کې د خپل مور او پلار څنګ کې خاورو ته وسپارل شوه.

چرچېل عجیبه مفکوره درلوده. له یوې خوا عملاً له شوروي، المان او هندیانو سره پر جګړه بوخت و، خو له بلې خوا یې د بشریت د ودې او ترقۍ خبره کوله. هغه د نوبل کمېټې له لوري چې کله د ادبیاتو د جایزې ګټونکی اعلان شو، ټولې نړۍ ته عجیبه وه. لا هم خلک وایي چې نوبل چرچېل ته د جایزې په ورکړه یوه سیاسي جایزه شوه. خو ډېری داسې کسان هم شته چې نوموړی د دې جایزې مستحق ګڼي. دوی پر دې باور دي چې د بشري فکر د پراختیا لپاره د چرچېل په اثارو کې ګټورې خبرې پیدا کېږي. چرچېل په خپلو اثارو کې تر ډېره انساني فکر پاللی دی او انسان ته د ښه ژوند په جوړولو او انساني چاپېریال پر رامنځ ته کولو خبرې کوي.

چرچېل په خپلو خاطراتو کې وایي، د دویمې نړیوالې جګړې په وخت کې چې لندن تر سختې بمبارۍ لاندې و، یوې مهمې جلسې ته مې باید ځان رسولی وای. د مشغولتیاوو له لاسه راباندې ناوخته شوی و. موټروان ته مې وویل چې څومره ژر چې کولی شې ما جلسې ته ورسوه. موټروان هم یوه لنډه خو ممنوع لار ونیوله. ناڅاپه یو پولیس چې د جریمې ورقه یې لاس کې وه، د موږ مخ ته ودرېد. موټروان وویل: دا د لومړي وزیر موټر دی، باید یوې مهمې جلسې ته یې ورسوم. پولیس په سړه سینه وویل: لومړی وزیر، موټروان او هم زه خپله دنده ډېره ښه پېژنو. پولیس موټروان ته جریمه ورکړه او د بېرته ستنېدو امر یې ورکړ. کله چې موټروان بېرته ستون شو، چرچېل یو سیګار روښانه کړ او ویې ویل: موږ جنګ ګټو، ځکه چې د لندن په کوڅو کې قانون حاکم دی.

په دې توګه د چرچېل ډېری خاطرې ورته تاریخي مسایل بیانوي او د خپلې شاوخوا ناخوالې سپړي. هغه حاضر ځوابه و. تر څنګ یې یو تکړه او با دقته ویناوال و. په خپله هره وینا کې به یې له خلکو د یوه کار ترسره کول غوښتل. هغه به ډېر کار کاوه، فکري تمرکز یې خورا ډېر و. هېڅ وخت له ستونزو نه ډارېدو، ده به ویل، ستونزو ته مخامخ کېدل د نوو د پیدا کولو په مانا دي. ده به ویل، بریا له یوې ماتې تر بلې ماتې ځان رسولو ته وایي، پرته له دې چې تسلیم شې. چرچېل کم خوب، خو ډېر کار کاوه. لیکل یې نه پرېښودل او په خپل هېواد مین سړی و.

چرچېل اوس هم په برېټانیا او ټوله نړۍ کې پېژندل شوی نوم دی. د نړۍ د هر ګوټ خلک د هغه لنډې ویناوې او خاطرې په خپلو خبرو کې کاروي. له وطن او ملت سره د هغه مینه د ډېرو خلکو لپاره یوه الګو او نمونه ده. اثار یې لوستونکي لري او په برېټانیا کې له پوره قدر او ښه نامه برخمن شخصیت دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۸۰ |
| € | ۹۱,۳۰ |
| Rp. | ۵۰۸ |
| ₹ | ۱۱۶۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۱,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړني شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# باډي لنګوېچ

ژباړه: امان الله «حنیفي»

حتماً به د اړیکو په ساتلو کې د باډي لنګوېچ یا لاسونو او سترګو په واسطه د خبرو کولو له ارزښت سره اشنا یاستی. موږ په همدې مقاله کې تاسې ته د باډي لنګوېچ په ارزښت او په اړیکه ساتلو کې د هغه پر رول خبرې کوو. که غواړی پر دې هرڅه پوه شی، دا مقاله تر پایه ولولئ. کله چې له نورو سره خبرې کوی، دا وخت ستاسې ذهن پرته له دې چې تاسې دې دغه حرکتونه په خپل کنټرول کې راولی، ستاسې د بدن ځینې غړي چې عمده یې لاسونه او سترګې دي، ستاسې د افکارو او خبرو د لېږد لپاره پر حرکت راځي؛ ځکه خو باډي لنګوېچ مخاطب ته د هغه څه په لېږد کې چې تاسې یې په خبرو کې نه وایی، مرسته کوي. د باډي لنګوېچ پر ځای استعمال، د هرې اړیکې د محکم ساتلو او خپلې اصلي موخې ته د رسېدو تر ټولو ښه لار ده. موږ دلته د ځینو هغو مهمو حرکتونو یادونه کوو، چې له خبرو کولو پرته، له موږ سره د پیغام په رسولو کې مرسته کوي:

**۱ـ د ځمکې پر لور د لاسونو خلاص نیول**

په باډي لنګوېچ کې دغه ډول حرکت پر ځان د اعتماد او باور لرلو څرګندونه کوي او داسې ښیي چې تاسې څه وایی، پر هغه پوره پوهېږی. خو ممکن ځینې وخت ستاسې د سخت دریځی او انعطاف ناپذیرۍ ښکارندویي هم وکړي. د ځمکې پر لور د لاسونو خلاص نیول، داسې چې د ګوتو ترمنځ مو فاصله او ګوتې مو شخې وي، خپله د تسلط، مبارزې او قدرت لرلو ښکارندویي کوي. کله چې له تاسې سره څوک په خبرو کې داسې حرکات کوي، مانا یې دا ده چې نوموړی/نوموړې یوه زره هم له خپل دریځ څخه نه په شا کېږي او تاسې باید د هغه دریځ ومنئ.

**۲- شا ته د لاسونو تړل**

د لاسونو دا ډول حرکت معمولاً پر ځان د باور لرلو ښه ده. ځکه د دغه حرکت پر مهال بدن مخ لوري ته یو څه مایل او د بدن ځینې نور غړي هم پر حرکت او ټکان راځي. لکه دا وخت سر یو ځل ځوړند او بیا د غرور په ډول ببرته پورته غورځول کېږي، اوږد قدم اخیستل کېږي او معمولاً د دغه حرکت پر مهال سړی موسک وي. دا حرکت ډېری په نرانو کې لیدل کېږي او ښه ده چې د دغه حرکت پر مهال مو د سترګو په واسطه خپل معلوم هدف یا لوري ته اشاره وکړی. که مو کله ونه شوای کړای چې د لاسونو په واسطه پر ځان د باور لرلو ښکارندویي



وکړی، ښه ده چې د دغه حرکت په واسطه دا څه روښانه کړی. ځینې کسان بیا د خواشینۍ او اندېښنې پر مهال هم دا حرکت کوي، ځکه دوی ځان یو ډول ملامت احساسوي او د ملامتیا ښودلو لپاره لاسونه تر شا تړي.

**۳- کلک موټی نیول**

د موټي کلک او ټینګ نیول معمولاً پر خپله اراده د قوي پاتې کېدو ښکارندویي کوي. د بېلګې په ډول، تاسې خپل ځان داسې تصور کړئ چې د فوټبال لوبه کوی، کله چې لوبغالي ته دښکته کېدو پر مهال دا حرکت وکړی، دا ستاسې د ټینګ عزم او د خپلې موخې لاسته راوړلو لپاره قربانۍ ته ستاسې پر چمتووالي دلالت کوي.

**۴- پر زړه لاس نیول**

دا حرکت معمولاً داسې ښیي، چې نور بیا د نوموړي/نوموړې نظر او خبر ومنی او پر هغه/هغې باور وکړی. په دې حرکت سره معمولاً ادا کار شخص غواړي چې نورو ته ځان یو ډول صمیم وښیي، خو دا اصلاً د صمیمیت نښه نه ده. دا حرکت یوازې دا مانا ورکوي چې نور کسان د هغه پر خبره پرته له دې چې هغه دروغ وایي که رښتیا، باور وکړي. دا حرکت مانا دا چې هرڅه وایم، له زړه یې وایم، چل او دوکه نه کوم.

**۵- د تورې د وار کولو په څېر د لاس پورته کول**

دا حرکت معمولاً د تاکید او تحکم مانا ورکوي. کله چې یو څوک په همداسې انداز خبرې کوي، مانا دا چې کلکه پرېکړه یې کړې او هېڅکله به خپله پرېکړه بدله نه کړي. همدارنګه دغه حرکت ډېر وخت د یوې بېلګې یا لارې د ښودلو لپاره هم پکارېږي. د بېلګې په ډول، یو چا ته د سزا ورکولو لپاره، هغه ته حد اورولو پر مهال دا حرکت اجرا کېږي. که له دغه ډول حرکت سره عادت یاستی، هېڅکله یې د تهاجم راوړلو په موخه مه کاروئ.

**٦- یو پر بل د دواړو لاسونو د ګوتو نیول**

د دغه حرکت پر مهال، ادا کار کس د دواړو لاسونو ګوتې داسې یو پر بل ږدي، چې د منارې شکل پرې جوړ کړي. دا حرکت پر نفس د باور او پوره اطمینان ښکارندویي کوي. دا حرکت معمولاً د لوبغاړو له خوا هغه وخت ترسره کېږي، چې خپل سیال ته یې د ماتې ورکولو لار موندلې وي. خو پام مو وي چې له زیات استعمال څخه یې ځانونه وساتئ؛ ځکه ډېر وخت پر مقابل لوري د خپل تسلط جاري ساتلو مانا ورکوي.

**۷- پر تشو لاس نیول**

ځینې وخت په تېروتنې سره له دغه حرکت څخه د مینې نه لرلو مانا اخیستل کېږي؛ خو اصل مانا یې دا ده چې نوموړی کس همدا اوس د کار سرته رسولو ته اماده دی. معمولاً دغه حرکت د ډېر کارکوونکو، ورزشکارانو او فعالو کسانو له خوا ترسره کېږي. کېدای شي ځینې وخت پر مقابل لوري د برترۍ او تحکم لپاره هم ترسره شي. د بېلګې په ډول، ډېر نظامي او قانوني خلک پر وضعیت د کنټرول لرلو پر مهال دا حرکت کوي.

**۸- په جیبونو کې لاس اچول**

دا حرکت معمولاً پر ځان د باور نه لرلو، وېرې او بې علاقمندۍ په وخت کې ترسره کېږي. کله چې یو چا لاسونه په جیبونو کې اچولي وي، لومړی یې باید تاسې توجه خپل لوري ته را جلب کړئ. حتی که څوک دا هڅه کوي چې خپل رښتیني افکار پټ کړي، همدا په جیبونو کې یې لاسونه اچول درته وایي چې نوموړی/نوموړې څه پټوي او نه غواړي چې تاسې ته یې ووایي. که په باډي لنګوېچ کې لږ څه مهار کس یاستی، د ځینو خاصو حرکاتو په ترسره کولو سره کولای شی له هغه کس څخه پټه خبره هم راوباسی.

**۹- د اندازې ښودلو په موخه د ګوتې اشاره**

دغه حرکت د یو ډېر خاص مورد د ښودلو لپاره پکارېږي. کله چې تاسې د یوې موضوع پر یو خاص اړخ خبرې کوی، د دغه حرکت په کولو سره کولای شی مقابل لوري ته د هغه ارزښت روښانه کړی.

**۱۰- یو خاص کس ته اشاره کول**

د دغه حرکت تر ټولو ښه وخت هغه دی چې د ترسره کولو پر مهال مو لاس نیم خلاص وي. خو پام مو وي چې دغه په نیم خلاص لاس سره اشاره کله کله د تهاجم مانا هم ورکوي. تاسې کولای شی د دغه حرکت د ترسره کولو په وخت، مقابل لوري ته داسې وښیی چې په اړونده موضوع کې تاسې هم ورسره شریک یاستی. دغه حرکت کولای شي هغه وخت د مقابل کس توجه ستاسې خوا ته راجلب کړي، کله چې هغه په فزیکي ډول له تاسې او په ذهني لحاظ بیا بل چېرته مصروف وي.

**۱۱- یو یا دواړو لورو ته د لاسونو خلاصول**

دغه حرکت معمولاً د یو اړخ د راجوړېدو او له هغه د اطمینان په خاطر ترسره کېږي. کله چې تاسې خپل دواړه لاسونه دواړو لورو ته خلاصوی، دا وخت تاسې له الفاظو او خبرو سره جوخت د لاسونو یوه ترکیبي ژبه رامنځ ته کوی. دواړو لورو ته د لاسونو خلاصول، د دوو پاشلو او خورو ورو ډلو د یو ځای کېدو مانا ورکوي. حتی د دغه دواړو یا څلو ډلو د یو ځای کېدو پر مهال کولای شی دواړه لاسونه بیخي سره کلک او یو موټی هم کړی.

**۱۲- د بازوګانو خلاصول**

کولای شی له دغه حرکت څخه هغه وخت استفاده وکړی، کله چې یوې ډلې یا یوه کس ته خبرې کوی. تاسې باید له هغه سره د خبرو پر مهال خپل بازوګان خلاص کړئ او داسې وښیئ چې تاسې هغه په غېږ کې نیسی. په دې سره کولای شی مقابل لوري ته دا روښانه کړی چې غواړی له هغوی سره یو ځای شی. کله چې تاسې د یو چا خوا کې ولاړ وی، کولای شی له دغه حرکت څخه استفاده وکړی او هغه ته داسې وښیئ چې تاسې ورته تر ټولو نږدې کس یاستی. دغه حرکت که پر ځای ترسره شي، د مینې ښودلو تر ټولو پیاوړی حرکت دی.

د باډي لنګوېچ د استعمال پر مهال که تاسې خپل حرکات په کنټرول ولری، کولای شی خپل پیغام مقابل لوري ته په ښه ډول ورسوی. دا حرکات د خبرو کولو په نسبت اغېزناک او د مقابل لوري د راخپلولو تر ټولو ښه وسیله ده.

## د ملکیانو د خوندیتوب ګروپ: په تېره جون میاشت کې د ملکیانو په مرګ ژوبله کې کموالی راغلی دی

د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ ویلي چې تېره میاشت د ملکي تلفاتو کچه ټیټه شوې وه.

د یاد ګروپ له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د ملکي تلفاتو د کموالي لامل دا ښودل شوی چې تېره میاشت یوازې یو ځانمرګی برید شوی و.

د دغه ګروپ شمېرې او موندنې ښیي چې د تېرو میاشتو په پرتله تېر جون لومړۍ میاشت ده، چې یوازې په ۱۱ ولایتونو کې د جګړې له امله ملکي وګړو ته زیان پکې اوښتی دی.

په خبرپاڼه کې راغلي، په دغو ولایتونو کې شاوخوا ۱۹۷ کسان مړه او ټپیان شوي چې له یادې شمېرې ۱۳۴ تنه یې ټپیان او ٦۳ یې وژل شوي دي.

دغه ګروپ زیاته کړې، په وژل شویو کې پنځه مېرمنې او شپږ ماشومان هم شامل دي، همدا ډول د ټپیانو له ډلې هم اووه مېرمنې او ١٦ ماشومان دي.

د دغه ګروپ معلومات څرګندوي چې تېره میاشت تر ټولو ډېره مرګ ژوبله په ننګرهار ولایت کې اوښتې او ۴٦ ملکي وګړو ته پکې مرګ ژوبله رسېدلې. ورپسې کابل دی چې ۴۲ ملکي وګړو ته پکې تلفات اوښتي دي.



د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ډله په همدغه راپور کې کاږي چې سږ کال د لومړیو شپږو میاشتو ملکي تلفات د تېر کال د ورته وخت له مرګ ژوبلې کم دي. د دغه ګروپ په خبره، د روان زېږدیز کال په تېرو شپږو میاشتو کې ۱۹۸۱ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې؛ خو دا شمېره بیا د ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۲٦۳۹ کسانو ته رسېده.

سرچینې زیاته کړې چې د جګړې ښکېلو غاړو د خپلو عملیاتو ډېری تمرکز د یو بل پر جنګي مرچلو کړی، چې د ملکي مرګ ژوبلې د کمښت سبب ښودل کېږي.

په خبرپاڼه کې راغلي، له دې سره سره د ملکي افغانانو مرګ ژوبله د جدي اندېښنې وړ ده او په جګړه کې ښکېلې خواوې لا هم ډېر دقت نه کوي او په خپلو عملیاتو کې د جګړې داخلي قوانین، بشر دوستانه نړیوال قوانین، د بشري حقونو نړیوال قانون او اسلامي قوانینو ته درناوی نه کېږي.

د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ د کابل د تېرې ورځې برید چې پکې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته، غندلی او له وسله والو مخالفینو یې غوښتي چې د ملکي خلکو له وژلو لاس واخلي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!




flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د جولای دویمه | دریم کال | ۳۹۷یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٤ | ۳۳ | ٤۳ | ۳۹ | ۳۷ | ۳۷ |
| ۱۷ | ۱۹ | ۲۵ | ۲۵ | ۲٤ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۰ | لمر ختل ۰٤:٤٤ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیگر ۰۳:٤٤ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ



# دیموکراتان: د ټرمپ هڅې به له شمالي کوریا سره اتومي لانجه حل نه کړي

۳

## اسرایلي الوتکو یو ځل بیا د سوریې د دولتي ځواکونو پر مرکزونو بریدونه کړي دي



د سوریې دولتي رسنیو ویلي چې اسرایلو په دمشق او حمص ښارونو کې د سوریې د دولتي ځواکونو پر پوځي مرکزونو هوایي بریدونه کړي دي.

د دغه هېواد د سانا په نوم دولتي خبري اژانس د سوریې د پوځي سرچینو په حواله چې نومونه یې نه دي اخیستل شوي راپور ورکړی، چې د اسرایلو د جنګي الوتکو له خوا دغه توغول شوي میزایل د لبنان له فضایي حریمه تېر شوي دي او په حمص او دمشق کې د سوریې د پوځ پر مرکزونو لګېدلي چې درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

خو د اسرایلو د پوځ یوه ویاند د سوریې د دولتي اژانس د دې ادعا په اړه له څه ویلو ډډه کړه ده.

سانا دغه راز ویلي چې دولتي ځواکونو د اسرایلو ځو توغندي په هوا کې شنډ کړي هم دي.

د راپورونو له مخې، په دغو بریدونو کې پر پوځیانو سربېره، ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله اوښتې، خو کره شمېر یې نه دی معلوم.

بلخوا د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف د اسرایلو دغه بریدونه غندلي او ویلي یې دي چې هېواد به یې په اړه څېړنې وکړي. هغه دغه راز پر اسرایلو غږ کړی چې نړیوال قوانین دې تر پښو لاندې نه کوي.

## ملګري ملتونه: که اقلیمي بدلون ته پام ونه شي، بشري ناورین به رامنځته شي



د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش ویلي، اقلیمي بدلونونه هره اونۍ ځمکه زیانمنوي.

هغه خبرداری ورکړی چې که دغه څه جدي ونه نیول شي او د حل لپاره یې اړین ګامونه اوچت نه شي، په نړۍ کې به بشري ناورین رامنځته کړي.

ګوتریش په ابوظبۍ کې د اقلیم په اړه په یوه غونډه کې ویلي: «موږ دلته ځکه راټول شوي یو چې نړۍ د اقلیم له ببړني حالت سره مخ ده. اقلیمي بدلون همدا اوس راغلی. ډېر په چټکۍ روان دی. دومره چې ان د نړۍ د ساینسپوهانو له اټکله هم چټک دی».

دا په داسې حال کې ده چې د متحده عربي اماراتو په پلازمېنه ابوظبۍ کې پر یوې داسې کرڼلارې کار روان دی، چې راتلونکې سپټمبر میاشت په نیویارک کې د اقلیمي بدلونونو یوې غونډې ته وړاندې کېږي.

د یادونې ده چې د ابوظبۍ په غونډه کې د لسګونو هېوادونو استازي برخه اخلي او تمه ده چې د نړۍ د اقلیم ساتنې لپاره سل طرحې په نیویارک کې لوېې ناستې ته وړاندې شي.

دا لومړی ځل نه دی چې ملګري ملتونه په نړۍ کې د اقلیمي بدلون په تړاو اندېښنه څرګندوي، بلکې تر دې وړاندې یې هم د نړۍ لویو صنعتي هېوادونو ته بیا بیا خبرداری ورکړی، چې که اقلیمي بدلون ته پام ونه کړي، ښايي نړۍ له لوی او له کنټروله وتونکي ګواښ سره مخ شي.

## دیروز نیز هیچ نامزد برای کرسی هیئت ولسی جرگه برنده نشد



اعضای ولسی جرگه، دیروز در کُل برای نُه نامزد کرسی‌های نیابت اول، نیابت دوم، منشی و نایب منشی رای دادند؛ اما هیچ کدام برنده نشد و قرار است امروز میان نامزدان جدید انتخابات شود.

بعد از گشایش دور هفدهم تقنینی شورای ملی در ۲۸ ثور، در سه دور انتخابات که با مخالفت‌ها میان اعضای جرگه همراه بود، سرانجام میر رحمان رحمانی رئیس این جرگه انتخاب شد.

دو روز پیش برای کرسی نایب اول سه تن، برای کرسی نیابت دوم دو تن، برای کرسی منشی چهار تن و برای کرسی نایب منشی نیز سه تن نامزد شده بودند؛ اما هیچ کدام پنجاه درصد جمع یک رای را از آن خود نکرد.

دیروز برای پست نیابت دوم، میان نامزدان جدید (غلام حسین ناصری و همایون شهیدزاده)، اما برای سه کرسی دیگر میان دو دو تن از نامزدان پیشتاز دیروز انتخابات شد.

در نشست دیروز ولسی جرگه، ۲۳٦ تن حضور داشتند و هر نامزد، باید برای برنده شدن ۱۱۹ رای را از آن خود می کردند.

دیروز برای کرسی نیابت اول؛ میان دو نامزد پیشتاز انتخابات دیروز (نجیب الله ناصر و محمد عالم ساعی) انتخابات شد.


در نتیجه ناصر با گرفتن ۱۰۹ رای تائید و ساعی با ۸٦ رای تائید، نتوانستند آرای لازم برای برنده شدن را از آن خود کنند. قرار است امروز برای نیابت اول میان نامزدان جدید انتخابات شود.

همچنان برای نیابت دوم؛ میان غلام حسین ناصری و همایون شهیدزاده انتخابات شد که در نتیجه ناصری با ۹۸ رای تائید و شهید زاده با ۱۱۳ رای تائید، پنجاه درصد جمع یک رای را از آن خود کرده نتوانستند و قرار است امروز میان نامزدان جدید برای این کرسی نیز انتخابات شود.

به همین ترتیب در نشست دیروزی ولسی جرگه، میان دو نامزد پیشتاز انتخابات دیروز کرسی منشی (عظیم الله کبرزایی و اسدالله شهباز) انتخابات راه اندازی شد؛ اما شهباز با ۱۰٦ رای تائید و کبرزایی با ۹۱ رای تائید نتوانستند آرای لازم برای احراز این کرسی را از آن خود کنند.

## ژوند

## دغه خواړه یخچال کې مه ساتئ!



په اوسني عصر کې په ښاري سیمو کې تقریباً هره کورنۍ په خپل پخلنځي کې یخچال لري، چې په واسطه یې د کورنیو مېرمنې کولای شي، خپل پاخه کړي خوراکونه وساتي، همداسې د مېوو او سبزیو د تازه ساتلو لپاره یخچال ډېر اهمیت لري.

خو دری داسې خواړه شته چې له نوي تحقیق سره سم کله چې په یخچال کې کېښودل شي، خپله ګټه له لاسه ورکوي.

**۱- پټاټې یا کچالو**

کله چې په یخچال کې کېښودل شي، خپل په دننه کې چې کومې اوبه لري، هغه پر شوګر یا خوږې اوړي، چې له کبله یې خپل اصلي خوند له لاسه ورکوي او د خوراک په وخت کې بد مزه وي.

**۲-شفتالو**

ډېره قېمتي مېوه ده، د نورو میوو په نسبت ډېر زیات پوټاشیم او فایبر۲ لري، خو دغه هر څه هغه وخت له لاسه ورکوي، کله چې په یخچال کې کېښودل شي.

**۳-هندوانه**

د ګرمۍ وهلي ناروغ تر ټولو ښه علاج او د ګرمۍ تر ټولو زیاته خوړونکې د هر چا د خوښې مېوه، چې ډېر خلک یې د خوراک تر مخه په یخچال کې اېښودل خوښوي، څو یخه یخه یې وخوري، خو له نوي څېړنې سره سم هندوانه خپلې ټولې ګټې هغه وخت له لاسه ورکوي کله چې په یخچال کې کېښودل شي او یخه شي.

## د انسان لومړنی جوړښت بې عیبه دی



د انسان لومړنی جوړښت بې عیبه دی، اندازه یې مناسبه ده او خدای پاک ټولو انسانانو ته بېلابېل او مناسب استعدادونه ورکړي دي. له دې ټولو سره خدای پاک په انسان کې درست او سم سافټویر (پروګرام) هم ځای پر ځای کړی دی. انسان له هماغه لومړۍ ورځې د بریا، قدرت او نوښت لپاره پیدا شوی دی.

په تاسو کې لومړنی ځای پر ځای شوی سافټویر (پروګرام) دا په ګوته کوي، چې تاسو کولی شی هر کار تر سره کړی او د هر ډول خلاقیت وړتیا لری. خدای پاک تاسو داسې جوړ کړي یاست چې په هر کار لاس پورې کړی، سر ته یې رسولی شی. تاسو کولی شی نورو ته پور ورکړی، نه دا چې تاسو ترې پور واخلی. تاسو بریالي یی، نه ماتې خوړلي.

تاسو د ژوند، بریا او نوښت لپاره پیدا شوي یاست. دا چې موږ په ژوند کې پورته ذکر شوو شیانو (ښه ژوند، بریا او نوښت) ته ځان نه شو رسولی، لامل یې دا دی چې زموږ د وجود سافټویر پر ویروس اخته شوی دی.